مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی
۲۰۲۳/۰۹/۰۵

# نړیوالې ټولنې

## ۷۹ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**
**آسیایي ټولنې:**

**ش -- د آسیا – پاسفیک د تکنالوژۍ لېږد مرکز Asian-Pacific Center for Transfer of Technology (APCTT):**

APCTT په کال ۱۹۷۷ کې، د یو نړیوال تخصص بنسټ په توګه، ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورۍ د ESCAP له لارې، په بنګلور (هند) کې جوړ شو او د ملګرو ملتونو په نظام کې د یو سیمه ییز بنسټ په توګه، د ESCAP تر نظر لاندې کار کوي. د APCTT مرکز په ۱۹۹۳ کې نوي ډیلي ته ولېږدید. د UNESCAP ټول غړي په APCTT کې غړیتوب لري.

اهداف: APCTT په آسیا – پاسفیک کې، د تکنالوژي د لېږد فعال بنسټ دی او تل هڅه کوي چې د تکنالوژي وړاندې کوونکي او پېردونکی یا متقاضیان وموميږ. د APCTT مهم اهداف دا دي:

- د ESCAP له غړو او همکارو مراکزو سره مرسته چې د ملي نوښتونو د سیستمونو د مدیریت او پراختیا له پاره وړتیاوې پیاوړې کړي،
- د تکنالوژی پراختیا، لېږد، منل او کار اخستل،
- د تکنالوژی د لېږد د شرایطو سمون او پراختیا.

په لاندې برخو کې فني پراختیا او تکنالوژي د APCTT په لومړیتوبو کې راځي: کرنه، د سمندري خوړو د پروسس صنعت؛ د خوراکي صنایعو او ارزانه ودانیزو موادو په برخه کې بیوتکنالوژي او جنیټک مهندسي؛ میکروالکترونیک او میکرو پروسسرونه، د انرژي معمولي او غیرمعمولي سرچینې او کمکي صنایع.

خدمات:

- د سیمي دولتونو، خصوصي برخي او څېړنیزو مراکزو ته د مشورو ورکول،
- د غړو هېوادونو د کمکیو او منځنیو صنایعو له پاره، د نړیوالو پوروونو په مرسته د تکنالوژي د لېږد د ظرفیتونو د جګولو پروژې،
- په تکنالوژۍ کې د ښځو د ډېرې ونډې اخستلو هڅول،
- د صنعتي ټکلارو او تکنالوژیکي جوړښتونو د پیاوړتیا مشورې، د صنایعو او سوداګریزه علایمو په برخه کې د اطلاعاتو رسول او د تکنالوژیکي وس (توان) د بیاکتنې له پاره د څېړنیز خدماتو وړاندې کول،
- له نړیوالو ټولنو او غټو ونډه والو سره شراکت،
- د شرایطو، موقعیتونو او بهیرونو څېړل.[1]

**۱۰ -- کولمبو پلان(CP) Colombo Plan**

د کولمبو پلان ټولنه یا CP، د کال ۱۹۵۰ په جنوري کې، په کولمبو (سریلانکا/ پخوا سیلون) کې، د آسیا پاسفیک هغه هېوادونو له خوا چې پخوا د برتانیا تر لاس لاندې و، او مشترک المنافع Commonwealth هېوادونه بلل کېدل، لکه استرالیا، برتانیا، کانادا، سریلانکا، هند، نیوزیلند او پاکستان، د غړو هېوادونو د اقتصادي – ټولنیزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پراختیا او پرمختیا له پاره جوړه شوه. دې ټولنې د بشري منابعو په پرمختیا تینګار کاوه او د بشري منابعو پرمختګ يې له خپلو لومړيتوبونه څخه بالله.
په کال ۱۹۷۷ کې، کولمبو پلان خپل اساسي قانون، د ۲۶ هېوادونو په ګډون تصويب او د يوې نوې نړېوالي ټولنې په توګه، په آسيا پاسفيک کې د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په کار پيل وکړ. په لومړي سر کې CP د ۶ کلونو له پاره په پام کې نيول شوې و؛ خو په کال ۱۹۸۰ کې د نامحدوده مودې له پاره تمديد شو.
اهداف: CP کوم ماستر پلان نه دی چې د غړو هيوادونو ملی پلانونه ورسره عيار شی. CP د دوه اړخيزه تړونونو د اسانتياوو له ديرولو سره مرسته کوی، د سيمی د اقتصادی او ټولنيز پرمختګ د پاره بهرنئ مرستی لټوی او هيوادونه ګډ او اغيزمن کار ته بولی. د دی ټولنی نور اهداف داسی دی:

- د اسيا-پاسفيک د ټولنيزی او اقتصادی پرمختيا ننګه او د ګډ کار هڅول،
- د غړو هېوادونو تر منځ، د تکنالوژيکي او تخنيکي مرستو د لېږد د بهير ګړندی کول،
- د غړو هېوادونو او اړونده ټولنو تر منځ، د پراختيا او پرمختيا بهير د ګړندي کولو له پاره، د تخنيکي او فني معلوماتو راکړه ورکړه،
- د سيمې د هېوادونو تر منځ د پرمختيايي تجاربو شريکول او د جنوب هکاري.

جوړښت: مشورتی کميته، د CP شوری، او د CP د پلان دفتر يا دارالانشا د دی ټولنی اصلی اداره کوونکی ارګانونه دی.
-مشورتي کمېټه: د CP د تصميم نيوني تر ټولو لوړ ارګان، چې د غړو هېوادونو له استازو جوړ دی او په هر دوو کلونو کې يو ځلې غونډه کوي.
د CP مشورتي کمېټه په خپلو غونډو کې، د سيمې د اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا پلانونه ګوري او په روانو ستونزو خبرې کوي.
د CP شوری: دا شوری هغه مهم پرمختيايي مسايل چې غړي ورسره مخامخ وي، پېژني او د مشورتي کمېټې د پرېکړو له عملي کولو سره مرسته کوي. دا شوری د هغه غړو هېوادونو د سياسي استازيتوب له استازو څخه جوړېږی، چې په کولمبو (سريکلانکا) کې شته.
د CP د پلان دفتر: د ا دفتر په حقيقت کې همغه دارالانشا ده چې په کولمبو کې موقعيت او دا دندې لري:

- د CP له شوری سره د دندی په اجرا کې مرسته او لاسنيوی،
- د مشورتي کمېټې په غونډو کې د مشورو ورکولو د پاره ګډون،
- د CP د پروګرامونو له پاره، د عملي مرستو او ملاتړ ومندل.

د CP غړي هېوادونه: افغانستان (۱۹۶۳)، استراليا، بنګله ديش، بوتان، بروني، فيجي، هند، اندونيزيا، ايران، جاپان، جنوبي کوريا، ماليزيا، مالديو، منګوليا، ميانمار (برما)، نيپال، نيوزيلند، پاکستان، پاپوا نيوګينی، فليپين، سعودي عربستان، سنګاپور، سريلانکا (سيلون)، تايلند، امريکا متحده ايالات او ويتنام.
فعاليتونه: CP په پنځو پروګرامونو اخته دی: د عامه اداري پروګرام، د خصوصي سکتور د پراختيا پروګرام، د نشه يي توکو په هکله مشورتي پروګرام، د اوږدمهاله همکاريو پروګرام او د ژوند چاپېريال پروګرام.
CP په مانيلا (فليپين) کې د لوړو زده کړو يو موسسه هم لري چې لګښتونه يې د غړو يا ناغړو هېوادونو او سيمه ييزه يا نړيوالو ټولنو د مرستو څخه ورکول کېږي. د CP نور اداري لګښتونه د غړو هېوادونو له خوا په مساوي توګه برابرېږي.
افغانستان اوCP : افغانستان په کال ۱۹۶۳ کې د CP غړيتوب ترلاسه کړی دی، په کال ۲۰۰۳ کې CP په کابل کې يو دفتر پرانست چې له نشه يي توکو سره خپله پنځوس کلنه تجربه، په افغانستان کې، د نشه يي توکو په ضد مبارزې د ملي ستراتيژۍ له جوړونکو سره شريکه کړي.[2]

---

[1] سازمان پژوهش های علمي و صنعتی ايران، ويبپانه
[2] سازمانهای بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۸۲-۲۸۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ